# د افغانستان د ولسواکو او پرمختگپالو گوندونو او سازمانونو د مشرتابه پلاوي اعلامیه

د افغانستان د ولسواکو او پرمختگپالو گوندونو او سازمانونو د مشرتابه پلاوی د کابل پوهنتون د ټولنیزو علومو پوهنځي د زده کړیالو له ارام، سوله ییز او قانوني خوځښت سره خپل ملاتړ څرگندوي.

زموږ په باور د هېواد له اساسي قانون سره سم د زده کړیالو د روا غوښتنو قانوني غبرگون د دولت د پازوالو چارواکو له پازو څخه گڼل کیږي او له دغه پلوه هر راز ځنډ د واکمنۍ نا ولسواک ماهیت راډاگیزوي.

موږ دا د صنفي غوښتنو وړاندیینه د زده کړیالو منلی ولسواکه ربنته بولو. دا چې اعتصاب یې تر څلورمې ورځې رسېدلی او د افغانستان د لوړو زده کړو د اړوندو چارواکو بې پروایي او ناغیږي د ټولو مدني او دېموکراتیکو ارزښتو نو پر خلاف تر اوسه هېڅه نه دي کړي، د چارواکو د ولسواکي ضد او استبدادي لوښې(خصلت) انگېرو.

د افغانستان د ولسواکو او پرمختگپالو گوندونو او سازمانونو ټلواله د افغانستان د مدني ټولنې له ټولو بنسټونو او د دېموکراتیکو ارزښتونو له ژمنوسیاسي بهیرونو څخه غوښتنه کوي چې له نیوکگرو(معترضو) زده کړیالانو سره خپل پیوستون پر ډاگه کړي، پر مسوؤلو حکومتي چارواکو باندې فشار زیات کاندي او د مدني او دېموکراتیک خوځښت پر وړاندې یې خپله ننگه ملاتړ پر ډاگه کړي.